# رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغه سړي لعنت ويلى چې د ښځو جامې اغوندي او پر هغې ښځې چې د نارينه وو جامې اغوندي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى هغه ويلي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم پر هغه سړي لعنت ويلى چې د ښځو جامې اغوندي او پر هغې ښځې چې د نارينه وو جامې اغوندي.
[صحيح دى] [النسائي په الكبرى كې او ابن ماجه په همدې معنا او احمد هم روايت كړى دى]

نبي صلى الله عليه وسلم هغه سړي ته د الله له رحمت څخه په لرې کېدو او شړلو ښېرا کړې ده چې د ښځو ځانګړي لباسونه اغوندي؛ برابره خبره ده که دا په ښه، رنګ، طرز، د اغوستلو په طريقې، سينګار يا نورو شيانو کې وي. يا د يوې ښځې لپاره هم د نارينه وو د جامو تقليد کول، چې دا هم د کبيره ګناهونو څخه ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8905

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee